د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر
# Logar

میاشتنۍ خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

سه شنبه د۱۳۹۸ کال دسلواغې میاشتې لومړۍ، د ۲۰۲۰ عیسوي کال دجنوري یویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۰۹) لومړی کال، اتمه ګڼه


له معاذ بن جبل (رض) څخه روایت دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:
بنده دقیامت په ورځ له خپل ځای څخه نشي خوځیدلای، ترڅو چې ورڅخه دا څلور پوښتنې نه وي شوې .
۱- دعمر یې؛ چې عمر دې په څه کې تیر کړی .
۲- دځوانی یې؛ چې ځواني دې دکوم کار په ترسره کولو کې تیر کړې او په څه کې بوخت وې .
۳- دمال یې؛ چې څه ډول مال لاسته راوړی او په څه کې یې لګولی .
۴- دعلم یې؛ چې ترکومه حده یې په خپل علم عمل کړی .
( البیهقي ترغیب)

سرلیکنه ...

## افغانان دټاکنو د ورستیو پایلو داعلام په تمه دي!

په هېواد کې د ولسمشریزو ټاکنو ترسره کېدل او د لومړنیو پایلو داعلام په وړاندې دځینو نوماندانو جنجالونه داهغه څه ؤ، چې دولسونو په هیلو او ارادو باندې ملنډې وهل کېدې او دټاکنو پروسه یې خلکو ته بې باوره څرګنده کړې وه .
باید وویل شي، چې تر ټولو لوی ظلم همدا د ځینو نوماندانوله لوري شمیرل کیږي، چې دولس رایو ته نه درناوی او دولس په رایویې ملنډې وهلې.
هېوادوال د ولسواکۍ اصل دمراعت په موخه دټلې په شپږمه دیو لړ امنیتي ستونزو او ګواښونو په شتون وتوانیدل، چې ټاکنو کې برخه واخلي او دصندوقونو په لوري دهېواد دملي زعم په ټاکلو کې ګډون وکړ، خو دولس قربانیو ته ځینو نوماندانو هم ونه کتل او دخپلو ګټو لپاره یې دټاکنو په پروسه کې خنډ اوځنډ رامنځته کړل .
سربېره ولسمشریزې ټاکنې دکور په دننه او دهېواد نه بهر نړیوالو هېوادونو لخوا وستایل شوې، همدارنګه ولسمشریزو ټاکنو ته ولاړو نوماندانو هم یادې ټاکنې بریالۍ ټاکنې وګڼلې. خو د رایو شمیرنې دپروسې په پیلدو سره سم ځینو نوماندانو ته خپله ناکامي له ورایه څرګندیده او دبېلابېلو پلمو له مخې دټاکنوکمېسیون یې په درغلیو تورن او اجازه یې نه ورکوله چې لومړنۍ پایلې اعلام کړي .
ولې یوځه به دټاکنوکمېسیون هم ګرم په دې وبولو، چې نباید دنوماندانو دګواښ تر اغیزې لاندې راغلي وای؛ بلکې دوی دخپل طرزالعمل له مخې کاري پروسه یې پرمخ بیولي وای.
اوس اوس دشکایتونوکمېسیون ته چې دشکایتونو دآوریدو لړۍ پیل شوې، یاد کمېسیون دې دخپل قانوني طرزالعمل له مخې په مرکز او دهېواد په ټولو ولایتونو کې دټاکنو اړوند رسیدلي شکایتونه دې په قانوني او واقعي توګه وڅیړي .
دشکایتونو کمېسیون له خوا داسې ویل شوي، چې دشکایتونو دآوریدو کمېسیون ته زرګونه شکایتونه رسیدلیدي، چې دشکایتونو دغه لړۍ یو څو ورځې به وخت ونیسي.
سمه ده، چې دټاکنو شکایتونو دڅیړلو موده اوږده ده، خو ولس تمه لري، چې په واقعي او ربښتوني ډول یاده لړۍ ته رسیدنه وکړي، څو دخلکو غوښتنو ته پوره درناوی او دټاکنو اصل په هېواد کې نور هم باوري شي.
د ولسونو هیله همداده، چې دشکایتونو دآوریدو کمېسیون له لورې په ټولیز ډول ثبت شوي شکایتونه په بشپړ بې پرېیتوب وڅیړل شي او پایله یې دټاکنو خپلواک کمېسیون ته وسپاري، چې دټاکنوکمېسیون ورستۍ پایلې اعلام کړي .
اوس خبره دلته ده، چې دشکایتونو دآوریدو پروسه خپل کاري راپور ټاکنو کمېسیون ته وسپاري، نو بیا دې نه منم خبره دا به دهېوادوالو لپاره دنه زغملو وړ وي، ځکه د نه منم نوماندان دې نوردهېواد او ولس په وړاندې ستونزې نه جوړه وي . دخلکو غوښتنه هم داده، چې وایې: زموږ په سترو قربانیو نه بایدځیني کسان لوبې وکړي، چې دوی دځوکۍ او د قدرت تږي دي؛ بلکې ولس د داسې کس غوښتونکي دي، چې هېوادوالو باندې زړه خوږۍ او خواخوږي ولري .
د ټاکنو دواړو کمېسیونونو له هراړخیزو ارزونو وروسته چې دولسمشریزو ټاکنو نوماند بریالی اعلاموي، باید پاتې نور نوماندان دې ورته دبریا مبارکي ورکړي او هم په ګډه دهېوادوالو دخدمت لپاره کوټلي ګامونه او چت کړي اوپه دې سره به یې خپله هېوادنۍ وجیبه اداء کړې وي .
نورې را روانې ټاکنې لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون دې یوه نوي طرحه جوړه او نوماندانو لپاره داسې طرزالعمل جوړ کړي، چې نور د زورواکۍ او نه منم خبرو ته نه وویل شي .
په پای کې له اوږده انتظار ایستلو ولس ډیره هیله لري، چې دټاکنوورستۍ پایلې دې کمېسیون پرته له ګواښونو اعلام ، څو دهېواد ملي زعیم معلوم او دهېواد ټکنۍ چارې په ګړندۍ توګه روانې شي.

ترېیا دخدای پامان
مدیر

## جلسه کمیته مصئونیت خبرنگاران درلوگربرگزارشد

کمیته مصئونیت خبرنگاران تحت سرپرستی محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر تدویرجلسه نمود که درجریان مجلس روی مشکلات خبرنگاران بحث های همه جانبه صورت گرفت.
جلسه که بدین مناسبت درمقام ولایت لوگرتدویریافته بود درآن محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ، نورالله ستانکزی رییس انجمن آزاد ژورنالیستان لوگر، امین الله صفا آمراطلاعات وخبرنگاران اشتراک ورزیده بودند.
نورالله ستانکزی رییس انجمن آزاد ژورنالیستان لوگر درجریان صحبت هایش روی مشکلات رسانه ها وخبرنگاران صحبت نمود وافزود که درولایت لوگر رسانه ها با وجود آنکه برای مردم دراطلاع رسانی وپخش ونشربرنامه های ارزنده تلاش مینمایند به مشکلات مواجه میباشد ، وی خواهان همکاری با رسانه ها ، دراین ولایت شد.
خان ولی احمدزی مسوول کمیته مصئونیت خبرنگاران درلوگر روی دست آوردها ومصئونیت خبرنگاران صحبت کرد وعدم دسترسی کامل به اطلاعات را عدم هماهنگی برخی روسای ادارات دولتی قلمداد نمود ، وی ازروسای ادارات خواست که در دادن اطلاعات به خبرنگاران مطابق قوانین همکاری نمایند.
محمد انورخان اسحاقزی والی لوگر وعده همکاری همه جانبه با رسانه ها کرد و به روسای برخی ادارات هدایت داد تا درعرصه وقت با رسانه ها در بخش اطلاع رسانی همکاری کنند.
عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ برنامه را جمع بندی نمود وگفت که هماهنگی وهمکاری با رسانه ها پل ارتباطی میان مردم ودولت را مستحکم مینماید.



درجریان برنامه روی ایجاد مرکز رسانه ها ( پرس کلب ) شاملین مجلس صحبت نمودند وتصمیم اتخاذ کردند که انجمن آزاد ژورنالیستان لوگردرمورد ایجاد وافتتاح آن، با هم مشوره خواهند نمود. **محمدزاهد «سلطانی»**

## د لوګر پوهنتون څخه ۱۴۳تنه زده کړیالان فارغ شول

دمرغومې دویمه: په دې تړاو د پل علم ښاروالۍ په تالار کې فارغ شو زده کوونکو ته دفراغت جشنیزه غونډه نیول شوې وه، چې پکې لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي په ګډون، د ولایت مرستیال، دولایتي شورا رییس، ملي امنیت رییس، د ځینو دولتي ادارو رییسانو، ځوانانو، قومي مشرانو، دفارغ شو زده کړیالانو دکورنۍ غړیو او نورو مسؤلینو برخه اخیستې وه.
دغونډې په پیل کې لوګر پوهنتون رییس پوهنمل عبدالناصر ستانکزي ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست وویله. ستانکزي دخپلو خبرو په ترڅ کې دلوګر پوهنتون دښوونې او روزنې پوهنځۍ نه د ۱۴۳ تنه زده کړیالانو خبر ورکړ. زیاته یې کړه، چې دا دریمه دوره فارغین دي، چې لوګر پوهنتون په علمي ګانه سمبال ټولنې ته وړاندې کوي.
عبدالناصر ستانکزي د پوهنتون اړوند یو شمېر ستونزې او وړاند یزونه هم د غونډې له ګډونوالو او اړوندو مسولینو سره شریک کړل.
لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي غونډې ته په وینا کې لومړۍ زده کړیالانو او د دوی د کورنیو غړو ته د دغه ستر ویاړ مبارکي وویله او زیاته یې کړه خوښ یم، چې په داسې یوه علمي غونډه کې ګډون کوم چې هغه د هېواد راتلوونکی تضمینوي.
اسحاقزي له فارغ شویو زده کړیالانو غوښتنه وکړه چې په دې زده کړو بسنه ونه کړي او د ماسترۍ او دوکتورا لپاره هڅې او هاند وکړي.
د غونډې په پای کې لوګر والي د پوهنتون د مرستې له هغه صندوق سره چې ( ځان وړې کوو او پوهنتون آبادوو ) هم مرسته وکړه او نورو ګډونوالو یې هم له دغه صندوق سره مرستې ته وهڅول.
دلوګر پوهنتون رییس پوهنمل عبدالناصر ستانکزي لوګر جرېدې خبریال ته وویل، چې په ۱۴۳ تنو فارغ شو زده کړیالانو په ډله کې ۱۳ تنه نجونې هم شاملې دي.



ستانکزي زیاته کړه، چې یاد فارغ شوي زده کړیالان د ښوونې او روزنې پوهنځي دڅلور څانګو کیمیا، بیولوژي، فزیک او ریاضي برخو کې زده کړې کړې دي .

## مراسم فاتحه خوانی ویاد بود مرحوم آصف جلالی

**مراسم ختم قرآن عظیم الشان و دعا خوانی به روح مرحوم محمدآصف جلالی طنزپرداز و کمدین مشهور کشورونیز یادبود از کار نامه های آن، در کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ به تاریخ 24 جدی برگزارشد.**
**شاملین مراسم به روح مرحوم محمدآصف جلالی اتحاف دعا نمودند وازبارگاه خداوند (ج) متعال برای ایشان جنت فردوس وبرای بازماندگانش صبرجمیل واجرعظیم استدعا نمودند.**
**عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ کار کردهای ممثل وهنرمند مرحوم جلالی را در عرصه هنر(طنزپردازی، تمثیل، کمدین) ستودنی عنوان کرد و دربیست سال اخیر کار های هنری آنرا بی مثال خواند، آقای تسل در مورد زندگی نامه آصف جلالی معلومات ارایه نمود ومرگ وی را یک ضایعه بزرگ برای فرهنگیان عنوان کرد، رییس اطلاعات وفرهنگ گفت که مرحوم محمد آصف جلالی با اجرای پارچه‌های تمثیلی و بازی در نقش‌های کمیدی در رسانه‌ها ، خنده بر لبان مردم می‌آورد و در اصلاح جامعه از این طریق تلاش می‌ورزید.**
**همچنان در جریان برنامه آرین احمدزی و توراب خان حکمت از طریق اسکایپ در مورد کارهای هنری و شخصیت مرحوم جلالی معلومات همه جانبه ارایه کردند.**
**مرحوم آصف جلالی در بیش از یک دهه گذشته، افزون بر اجرای نقش در چندین فلم و برنامه تلویزیونی در رادیو و تلویزیون ملی افغانستان در شماری از شبکه‌های تلویزیونی خصوصی از جمله طلوع، یک و خورشید مجری برنامه‌های جالب کمیدی بود.**
**مرحوم محمدآصف جلالی پنجاه سال قبل در منطقه لشکر خیل دهنو ولسوالی محمد آغه چشم به جهان گشود که به تاریخ ۱۱ جدی به اثر بیماری که عاید حالش گردیده بود وفات نمود. عدیل**





## بخاطرپاک کاری شهر، حشر یک روزه زیرنام ( فرهنگ شهرنشینی) راه اندازی شد

ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر به منظور پاک کردن شهر پل علم ازوجود کثافات، زیرنام( فرهنگ شهرنشینی ) به همکاری جوانان رضا کارمدیریت عمومی امورجوانان حشریک روزه را ، راه اندازی نمودند.





در این حشر، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ، امین الله صفا آمراطلاعات،انجنیر محمدکاظم ابراهیم زاده مدیر عمومی امور جوانان ریاست اطلاعات وفرهنگ و ده ها تن ازجوانان رضا کار نیز شرکت ورزیده بودند .
درجریان حشر، صحن حویلی مسجد جامع شهرپل علم وپارک تاپی از وجود کثافات پاکاری گردید. عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ میگوید که این حشر بمنظورپاک سازی شهرازوجود کثافات وانگیزه دادن درمورد فرهنگ شهرنشینی به جوانان، راه اندازی گردید.
رییس اطلاعات وفرهنگ ازهمه باشنده گان شهرپل علم و دوکانداران خواست که درپاک کاری شهر سهیم شوند .
جمعه خان یک تن ازجوانان رضا کار که درحشر اشتراک کرده بود میگوید که این مسوولیت جوانان است تا درعرصه های مختلف برای آبادانی کشورتلاش نمایند و همه مردم درپاک کاری شهر سهیم گردند وفرهنگ شهرنشینی را رعایت نمایند. **سلطانی**

**حفاظت ونگهداری محیط زیست ومنابع طبیعی ازمکلفیت ها و وجایب هرانسان است!**